QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 01 (2025)

# د غني خان طنزيه شاعري
# GHANI KHAN HUMOROUS POETRY

**Dr. Shukria Qadir** [1]
Assistant Professor, Pashto Department, Abdul Wali Khan University Mardan
**Farooq Jan** [2]
MPhil Scholar Pashto Department Abdulwali Khan University Mardan

**Abstract:**
*Humans express their reactions to fear, pain, and things that go against nature, either through anger or crying. This reaction can also occur in other creature.*
*Ghani Baba belonged to a political family, was aware of the laws and the judiciary of his country, had a keen eye on every little thing, had seen the freedom of his country, had been in prison. When the British left, they left the leadership and the estates to their servants and enemies of the Pashtun nation.*

**Keyword:** Nature, reaction, leader ship, political, fear.

انسان چې د کومو وجوهاتو په وجه د نورو حېواناتو نه افضل او جدا دے په هغې کښې يو وجه خندا او ژړا هم ده چې نبغ په نبغ د عقل او شعور سره تړون ساتي انسان د وېرې ، درد او د فطرت خلاف کار باندې ردعمل اظهار کوي دغه اظهار يا خو غصه يا په ژړا کښې کوي دغه ردعمل د نورو حېواناتو هم کېدے شي ـ خو ولې خندا يواځې د انسان خاصه ده چې يو نفسياتي عنصر دے چې دا د خوشحالئ ،خلاف فطرت يا د ډېره غمه د هم کېدے شي د نورو وجوهاتو سره سره د خندا يو وجه طنز مزاح هم ده ـ
طنزومزاح په عام اصطلاح کښې يو څيز ګڼلے شي خو د دې سره يو بل جدا صنف د طنز په درجه کښې وراچولے شوے دے چې "هجو" بللے شي کۀ مختصره پېژندګلو د "مدح" او "هجو" وشي نو مونږ ته به په طنزومزاح پوهېدل اسان شي

مدح:
دا يو موضوعاتي صنف دے هغه نظم ته وئېلے شي چې په کښې د چا ستائينه وشي

هجو :
دا هم موضوعاتي صنف دے خو دا هغه نظم ته وئېلے شي چې په کښې د چا غندنه يا په کښې چاته ردبد وئيل شي هجو بللے شي

هجو مليح :
دا هغه کلام ته وئيلے شي چې په ظاهره مدح وي خو حقيقت هجو وي هجو مليح بللے شي

طنزومزاح :
په دې معاشره کښې ډېرې خرابئ ، لوړې ژورې داسې وي چې يو حساس انسان دپاره د هغې برداشت ډېر ګران وي هغه د هغې نشاندهي کوي هغه بدرنګيو ته ردبد وائي خو ولې شرشدت جنګ جګړه جوړول نۀ غواړي د هغې دپاره يو محسوس انداز خپلوي اعني طنزومزاح نه کار اخلي دا ټيک ده چې طنزومزاح د يو تصوير دوه مخونه دي او خلق يې عام اصطلاح کښې يو څيز ګڼي خو پوهان د طنز ځانله او د مزاح ځانله تعريف کوي حميدالله په خپل کتاب "جديد نثر " اردو کښې داسې تعريف کوي

''طنزومزاح دو الگ الفاظ ہیں

مزاح: یہ زندگی کے ناہمواریوں کے اس ہمدردانہ شعور کا نام ہے جسکا فنکارانہ اظہار ہو جائے۔ جس میں ہمدردی اور انس موجود ہو اسے مزاح کہتے ہیں مزاح میں مزاح نگار خود کو ہنسی کے لئے پیش کرتا ہے اپنے آپ کو کو حقارت کی نظر سے دیکھتا ہے.

طنز: یہ زندگی کے ناہمواریوں کے اس شعور کا نام ہے جسکا ہمدردانہ شعور نہ ہو اسکا فنکارانہ اظہار ہو جائے اسے طنز کہتے ہے طنز نگار خود کو ناہمواریوں سے بالاتر سمجھتا ہے۔''(۱)

دواړو کښې يو فنکار خپل يو مقصد په بدله بدله طريقه وړاندې کوي مشتاق مجروح يوسفزے د طنزومزاح په حقله ليکي چي

" طنز ته په انګرېزۍ کښې satire او مزاح ته Humor وئيلے شي تر وسه چې د دې په حقله څۀ وئيلي دي د هغې خلاصه دا ده چې طنز و مزاح د يو تصوير دوه اړخونه دي طنز نګار د معاشرې لوړې ژورې او خامۍ د خپل طنز نخښه جوړوي اعني د هغې نه د نفرت اظهار کوي او په داسې طريقه يې پېش کوي چې لوستونکے ترې خوند هم واخلي او او د هغې اصلاح هم کيږي " (۲)

په مزاح کښې مزاح نګار خپل ځان شامل کړي او هغه خامۍ په ګوته کوي او خندا سبب جوړيږي خو ولې طنزنګار په خپله د پاس نه چغه کوي او ځان د دې باله تر حسابوي يعني طنز اورېدو سره سړے په خندا شي خو ولې چې خلۀ راټولوي نو احساسات يې د خوشحالۍ نه په غم بدل وي۔

طنز مزاح د انساني ژوند دپاره ډېر لوي اهميت لري سنجيدګي ژوند ګرانوي انساني ژوند کښې د ستغ والي خلاف طنزومزاح کار کوي د ژوند ښکلا او خواږۀ په طنزومزاح دي انساني ژوند کښې د مالګې هومره اهميت لري بې ځائے طنزمزاح په اسلام کښې منع دي خو ولې د ضرورت او ځيني موقعو کښې اسلامي واقعاتو کښې هم مزاح شوے دے چې احاديثو کښې څرګند دي

ډاکټر حکيم الله جان په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې ليکي چې

"دا د طنزومزاح برکت دے چې د ژوند دغه خوفناکه سهره يې د انسان د ژوندپاره د امېد او ډاډ يوه ښکلې تماشه کړه "(۳)

د غني خان بابا طنزيه شاعري :

پښتو ادب کښې د طنزومزاح څرکونه د معلوم اولني دور نه شروع کيږي چې ځانله يو لوي بحث دے بيا روښانيان او اخونان کۀ وکتلے شي نوشاعري يې د طنز نه ډکه ده ارزاني ديوان کښې طنزيه څېړنه ځانله يوه مقاله ده دغسې خوشځال بابا ،رحمان بابا ، حميد بابا ، علي خان بابا او داسې تر دې دمه هر يو تر خپله وسه پورې د وخت د خرابيو غندنه په طنزيه انداز کښې ټولو کړي ده او د اصلاح کوشش يې کړے دے هم دغه سلسله کښې يو نوم د شلمې صدۍ د غني خان بابا هم دے خو د غني خان بابا انداز او اسلوب جدا دے غني بابا بې څۀ د يرې ترخې طنز کوي دا د غني خان بابا کمال هم دے د دې نه وړاندې داسې طنز نۀ دے شوے بلکې په اشارو کښې شوے دے غني خان بابا په خپله شاعرۍ کښې په رياکارۍ ، خان ، په ملا ، په پښتون ، په رسم رواج ، د وطن بادشاه او تر دې چې په خپل ځان يې هم کړے دے

غني بابا په سياسي کورنۍ سره تعلق ساتو د خپل وطن د قانون او د قاضي نه خبر وو په هر کمي ذياتي يې نظر وو و وطن ازادي يې ليدلې وه جېل يې تېر کړے وو انګرېز چې تلو نو مشري او جاګيرونه يې خپل خدمت ګارانو او د پښتون ملت دشمنانو ته پرېښودل غني بابا د خپل طنز مزے په دغه خلقو راخکلے دے" بې غېرته پښتون" نظم کښې فرمائي چې

" ے تور ښامار منجيله پروت دے د خمار په خزانو
د پرون غلام بادشاه دے د صبا د لېونو"(۴)

بيا هغه پښتانۀ چې دغه د انګرېزانو مقرر کړي مشران خپل مشران ګڼي نو په دغه خلق داسې طنز کوي

" ے هر پښتون د وېرې رېږدي ورک شو نوم د پښتنو
د سرو سترګو غېرت وچ همت ورک شو د سينو " (۵)

د رياکار ملا يې ډېره غندنه کړې ده د مذهبي خلقو په دې ډېر بدي هم شو چې ملا په طنز او په سپکه يادوي خو ولې د غني بابا چغې هسې نۀ وې هغه هم دا وئيل غوختل چې په ظاهري لباس د چا مۀ دهوکه کېږئ تاسو هر سور ږيرے شاګل ګڼئ پکار ده چې اول يې پوره وتلئ پس د هغې د يو سړي پېروي کوئ نو خپل کلام کښې داسې وائي

" ے پښتونه ټګي ژنه ته ملا بابا دهوکه کړې
راضي شو په پېټۍ د ګل ګلونه خبر نۀ شوې
او پير غريب حېران دے کله غپ کا کله کاؤن
پيري يې لاړه لاړه دا يې تلو نه خبر نۀ شو " (۶)

غني بابا په معاشره کښې هغه څيز ته ګوته نيسي چې د څۀ له وجې خلق ډېر تنګ دي او د خپلې تنګسيا ورته وجه هم نۀ ده معلومه ولې غني بابا بلا ججک په ډاګه چغې وخي چې څوک تا ته خېرخواښکاري هم دغه ستا بدخواه دے فرمائي چې

" ے عجيبه سوداګري ده په لاس تبغ په سر قران

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 01 (2025)

شنه قبا يې د امام ده      کلکې سترګې د شېطان
په ځيګر لکه چنګېز دے      چلولي لکه ماهان
په خلۀ د ګلو باغ دے      په زړۀ سخا لکه ډېران
غړمبېدۀ لکه زمرے کا      غرېدۀ لکه حېوان
پنجې ډوبې په سرو وينو      سر يې بره په اسمان " (۷)

او بل ځائے موازنه کوي او د سم او وران تميز په طنزيه انداز خپله وېنا کښې کوي چې تۀ خپل خېرخواه وپېژنه

"ے اے د لېونيانو نيکۀ مار ښۀ کۀ ملا ښۀ دے
تن مې ډک د زهرو کۀ زړۀ ډک مې د بلا ښۀ دے " (۸)

د نورو صفاتو سره د غني بابا په شاعرۍ کښې مقصديت هم ډېر جوت دے ډاکټر حنيف خليل د دې په حقله وائي چې

" د غني خان شاعري په مجوعي حواله د حسن او جمال فلسفې او تفکر او داخلي روحاني او وجداني کېفياتو شاعري ده چې د روماني مکتب فکر ښودنه کوي خو د دغه رومانيت سره سره هغه د مقصديت هم ټينګه نيولې ده او ځني داسې نظمونه يې وئيلي دي چې د معاشرې د مسئلو ترجماني پکښې تر دې حده شوې شوې ده چې د سياست غوندې خشکې او اقتصاد غوندې غېر جمالياتي مسئلې يې هم په شاعرۍ کښې بيان کړي دي " (۹)

خو ولې د مقصديت په بيا کښې هم د طنز لمن نۀ ده پرېښودلې لکه نظم "هغه دغه " چې وائي

"ے ټټو دوست کا سندا يار کا      خر کړه خپل مطلب پرې بار کا
خوار لوهار ته لالا وايه      چې تېرۀ درله سپار کا
سرکار مرګ له چې ځوک بيائي      يو کپتانن بل صوبه دار کا
د مستۍ چې خر شي پاتې      د شېخۍ چوغه اختيار کا
چې نرے رنځ ورشروع شي      ځان حاجي کا پرهېزګار کا
چې مېرې ته خدائے په قار شي      نو وزر ورله تيار کا " (۱۰)

دې معاشره کښې ډېر داسې کسان وي چې چې ډېر سپک او د کمزورې کردار خاوندان وي خو ډېر درانۀ او معتبر خلق ترې تنګ وي هغه خلق غني بابا د ځناورو په نوم طنزولي دي لکه چې وائي

"ے مچ د زمري سترګې شوکوي ماشے د اوښ وينه
خدايه ستا عجيبه دنيا توره ده که سپينه
مږ لسو ګيدړو ببرشېر په بونډۍ چرګه کړو
سپور شغال په پړانګ دے د غرڅو ښکار له ځينه
ناسته ده د ډم د لندن کور په سرو رېښمو کښې
لور د لوي شېرشاه لور يې په لاس لو له ځينه

مست د مغرور سر د پښتون سترګې يې ښکته دي
شرم داسې شرم چې شرمونه شرموينه " (۱۱)

ښـځه ذات چې سـم وي خو جنت دے کۀ وران وي بيا دوزخ چې ښـه وي د خاوند مزې او چې بده وخيژي خاوند ته په خپل کور کښې دوزخ . غني بابا ډېر په ښکلي انداز کښې پرې طنز کړے دے وائي چې

" يو وادۀ د خدائے رحمت دے      يو طاعون دے يو وبا ده
په کالو نۀ ښکلي کيږي      دا بدخويا دلربا ده
په ګيلو نۀ سترې کيږي      تل ويرونه دي غوغا ده
فلانے داسې فلانے داسې      دا يې کار دا يې سودا ده
وائي غني مېئن په غوا      چې دروغ دي کۀ رښتيا " (۱۲)

د مغل نه تر انګرېزه او بيا د انګرېز نه تر دې دمه د پښـتونخوا دپاره مقرر شـوي مشـران ډېر کم داسـې وو چې هغه حقيقت کښې د دې خلقو او د دې خاورې خېرخوا وو باقي ټول مفاد پرست او بدخواه وو د دوي په حقله غني بابا داسې وائي

" چې پخواني وو څۀ مشران      وې به يې ږيرې لوي مچان

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 01 (2025)

تهٔ راشه ګوره د خدائے شان چې نیم لغړ دي نیم ګنجیان " (۱۳)

غني بابا د دې خبرې سخت خلاف وو چې یو انسان په خلهٔ یو څهٔ وائي او په زړهٔ یې بل څهٔ وي هغه ملاچې په خپله لالچ او حرص په سر اخستے وي او خلقو ته د دنیا بد بیانوي د مذمت په ځائے ورته د صبر تلقین کوي د داسي انسان په حقله طنز د حد نه تر هجو پورې ځي خو په کلام کښې د خوند او د طنز عنصر پیدا کولو دپاره د ځناورو نومونه استعمالوي لکه چرګ ، سپے ، اوښ کارغه وغېره لکه چې نظم چرګ کښې فرمائي

" خوراک کوې د سپي او مسئلي د ملایانو
بانګونه د بلال لنګوټے د چنګېزیانو
پرتوګ دې یاره نشته او شمله نېغه د خان
شل ښځې دې ساتلي خو سحر کوې اذان
په جنګ کښې بهادر یې مستانه لکه چنګېز
په مینه کښې بې شرمه بې پروا لکه انګرېز
اوربوز دې د قاضي دے طبیعت دې د هټلر
اواز دې د پخېو دے او انداز دې د مسټر " (۱۳)

دغسې یې یوې مجبورې پېغلې له د ډمې نوم ورکول او هغې په ډمه جوړېدلو کښې د غټانو خلقو لاس باندې یې ډېر ښکلے طنز کړے دے دغسې یې بلهاتقریبا په هره پېښه یې طنز کړے دے او د دې نه علاوه یې په پښتون خان باندې طنز کښې په نظم " خانان " کښېوائي چې

" عجیبه دې ده خاني عجیبه دې ده ځواني
اے پښتونه پوه دې نهٔ شوم په ورانې په ودانې
دا دې لا نوے هنر چې خپل رور وژنې بې هیڅه
پیرنګي ته خو تینګ نه شوې چې یې کړلي پېزواني
چې پټکے یې پرپرے وي په هجره کښې ازمرے وي
ناست د مرچو وي په څټه د ځان نه وینې ښاخي
وائي پلار مې بهادر وو او نیکهٔ مې سکندر وو
چې د ځان تپوس ترې وکړې بس هیڼ هیڼ وي ارماني وي
په غریب همسایه نر وي یا په ښځه زورور وي
د جنګ وخت کښې به پټ ناست وي خو د جنګ وي ارماني
غني نهٔ د دوي دوا شته نهٔ طبیب ورله ورتلے شي
د خدائے قهر پرې لګیا دے چې زر زر یې کړي فاني" (۱۴)

غني بابا په خپل کلام کښې په طنز کښې څوک هم نهٔ دي معاف کړي بیا په تېره تېره ملا او ذاهد او دا ځکه چې د پښتون په حقله مشهوره ده چې دا من حبث القوم مسلمانان دي او دوي تعلق د ملا سره د نوک ورۍ دے هغه د پښتو متل دے چې ګجر خفه کے نو کټے ورله وواخه نو پښتون رابېدارول ،ننګول بغېر د طنزه نهٔ کېدل ګني بابا خپل پوره کوشش کړے چې د معاشرې هرې بدرنګی باندې طنز وکړي او د هغې اصلاح وکړي .

حوالې


1. حمیدالله ، جدیدنثر،العلم پبلشنگ سروسز عبدالغنی پلازه محله جنگی قیصه خوانی پشاور شهر ،۲۰۱۳ ، مخ ۱۰
2. یوسفزے ، مجروح ،مشتاق ، زرکانے ، قلندر ریسرچ سل ، ۲۰۲۱ ، مخ ۴۰۲
3. حکیم الله جان ، ډاکټر، په پښتو ادب کښې د طنزومزاح تنقیدي جائزه، ۲۰۰۴ ، مخ ۲
4. هم دغه اثر، مخ۳۵۴
5. هم دغه اثر، مخ۳۵۴
6. هم دغه اثر، مخ۱۱۴

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 01 (2025)

7. هم دغه اثر، مخ۴۷۱
8. خلیل ، حینف ، ډاکټر، نوې شاعري،یونیورسټي پبلشرزافغان مارکیټ قصه خواني پېښور،اپرېل ۲۰۱۱ ء مخ ۶۸-۶۹
9. غني خان ، لټون ،عبدالحلیم پرېس لاهور، اګست ۲۰۲۱ ، مخ
10. هم دغه اثر، مخ۷۹۲
11. هم دغه اثر، مخ۱۱۶
12. هم دغه اثر، مخ۷۴۶
13. هم دغه اثر، مخ ۷۹۸
14. عادل ، نوشېروان ، د کلام انتخاب د غني خان ، زېب ارټ پبلشرزمحله جنګي پېښور ښار،جنوري ۲۰۰۸ مخ ۱۶